مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۱۵

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم توک

۳۶۶ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
داکتر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **پچیر او آگام :** [1]: ۱۲ – ۳۴، ۱۷ – ۷۰: پچیر او آگام د ننگرهار په ولایت کې د یوې علاقه دارۍ یا د د دوه وو لویو کلیو نومونه دي دي چې ۳۵۸ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـې چې بزګرې پرګنې دي د ۶۵۸۸ تر ۱۷۱۷۰ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له خوګیانیو، له شمال لوري له «چپرهار» [2]، له لویدیځ لوري له دِهٔ بالا «هسکې مینې – ژ»، او له سویل لوري له پاکستان سره کربنه لري. پچیر او آگام په ۱۶ کلیو مشتمل دي چې ۵ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Zemar Khel | زمر خیل | Landi Khel | لنډي خیل | Sabar -i -Sufla (Chapar -i- Sufla) | | صابر سفلی «چپرِ سفلی» | |
| Bami Khel | بامي خیل | Sabar -i -Ulya (Chapar -i- Ulya) | | صابر علیا «چپرِ علیا» | | Morgai | مورګي |
| پیچیرِ علیا | | Tangi- i- Sulaiman -Khel | | تـنګي سلیمان خیل | | خان کلی «خان قلا» | |
| میرزا باغ | | Gari Khel (Gudi Khel) | | ګاري خیل «ګودي خیل» | | Pachir- i -Ulya | |
| Lorrah Mina | لوړه مینه | Murgha | مُرغه | Pankzai | پنک زي | پیچیرِ سفلی | |
| Mir Khani Khel | | میرخاني خیل | | Bangzar (Bang -i- Sarwar) | | بنګ زار «بنګِ سرور» | |

[1]-PACH I R 0 AGAM
[2]-Chaparhar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**پاداکو روغاني**: وگورئ: «پتک آوِ روغاني» [3]

**پادشاه کلا**: دا په کونړ کې د درهٔ نور د منځغري په خولـهٔ یا مدخل کې یوه کلا ده چې د جلال آباد حاکم د گاونډیو قبــیلو د مطیع کولو په موخه جوړه کړې وه. (میسن)

**پادشاه خانه**: دا د لوگر په ولسوالي کې یو کلی دی. دا کلی په دې شهرت لري چې دلته د ځمکې له رگونو څخه د ښناک لپاره خالصه اوبـهٔ په ډنډکیو کې راټولېـږي او کابل ته په لویه اندازه لېـږدول کــېـږي. (بــیلو)

* **پادشاه خیل**: ۲۱ – ۳۴، ۵۵ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د نرخ په سویل ختیځ کې د میدان د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

**پج غور**: [4]: ــ ۳۵ ، ــ ۶۹: دا د خاواک د کوتل له سره ۱۵ مایله لیرې سویل خوا ته یو کلی دی. دا کلي د تاجیکانو ۲۰۰ کورونه لري. (لیچ)

یادونه: کیدای سي دا هماغه «سنگ پَر» [5] وي. (وگورئ: خاواک)

**پغمان**: ۳۵ – ۳۴، ۵۷ – ۶۸ «ن»: پغمان د کابل د ولایت یوه ولسوالي ده. د پغمان ولسوالي ۴۱۳ کیلومتر مربع مساحت لري؛ بــېلابــېلو سرچینو د پغمان د ولسوالي د وگړو شمــېــر چې بزگرې پرگنې دي د ۱۷۸۸۰ تر ۵۱۶۵۰ تــنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولسوالي د کابل په لویدیځ کې موقعیت لري. پغمان ۳۵ کلي لري چې ۱۸ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوگن وگړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Qala -i -Ada | قلعـهٔ اډه | عیسی خیل | | Kaj Darah | کج دره | مرغ گیران | |
| Zarshakh | زرشاخ | Lochka | لچکه | Qurban Khel | قربان خیل | Nader Khel | نادرخیل |
| Bektut | | بیک توت | بک توت | Kunjak | کنجک | Tawalat | تاوالت |
| Parachi | پراچي | Nalab wa Chalak | | نالاب و چالاک | | Chandal Bai | چندال بایي |
| Pashai | پشه یي | Karezak | کاریزک | Arghandi Sufla | | ارغندي سفلی | |
| Khaldari | خال داري | Khwaja Lakan | خواجه لکن | Paghman (Urfia Khel) | | پغمان «اوریاخیل» | |
| Qala -i -Malik wa Pushta | | قلعـهٔ ملک و پُشته | | Chel Tan | چل تن | ارغندي علیا | |
| Qala -i- Hakim, | | قلعـهٔ حکیم | | Samuchak | سمچک | Dara -i- Zargar | درهٔ زرگر |
| Qargha | قرغه | Khwaja Musafer (Khwaja Muzafar) | | خواجه مسافر «خواجه مظفر» | | Alabila | الابــیله |
| کشکک علیا او سفلی | | Doda Mast | ډوډه مست | Deh Punbah | دِهٔ پنبه | Deh Arbab | دِهٔ ارباب |
| Deh Uryan | دِهٔ اوریان | محمد خیل | | Kamangar | کمانگر | Kushkak-i-Ulya aw Sufla | |
| Khwaja Mohammad Qargha | | خواجه محمد قرغه | | Najoy | ناجوی | Nabat | نبات |
| (لودویگ آدمک) | | | | | | | |
| د ژباړونکي یادونه: د بابا د ستر غرهٔ په پراخې لمن کې د پغمان د بیکتوت تک شین ښکلی کلی زما د زوکړې ټاټوبی دی. | | | | | | | |

پغمان په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی. دا د سنگلاخ له غرنـی لړۍ څخه راوتلی یو مهم مهمیز دی. پغمان کې د امیر دوبنۍ مانۍ دي چې د پغمان د غرنـی لړۍ په ختیځو ډډو کې واقع او له کابل سره د ۱۲ مایلو په اوږدو د یوهٔ متصله سړک په وسیلې نښلول سوی دی. (آی. بي. سي)

**پایه خیل**: [6]: دا په لغمان کې یو کلی دی. استوگن وگړي: تاجیکان. (واربرتن)

**پائـین خیل**: [7]: ۳۱ – ۳۴، ۹ – ۷۰: دا په لغمان کې د کابل د سیند د کینې غاړې په اوږدو کې د خیرو خیلو په مقابل لور کې یو کلی دی. دلته اړتیا توکي نسبتاً ډېــر موندل کــېـږي. (یانگ)

---

3-PADKAU ROGHANI See PATKAO -I- ROGHANI
4-PAGHJUR
5-Sangpar
6-PAIA KHEL
7-PAIAN KHEL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پای جزکه** : [8]: دا د بهسود هزاره په سیمي کې د یوهٔ ځای نوم دی.

**پای قول**: دا په بهسودو کې یوه کوچنۍ دره ده.

* **پای کوتل**: ۴۶ – ۳۴، ۴۱ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د بامیانو د سویل لویدیځ په شاوخوا ۱۰ مایلی کې په «درهٔ سیاله یک» [9] کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د میران په سویل او د «بدخان غر» [10] په ختیځ کې په ۵ – ۳۴، ۱۹ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

**پای کوتل**: وګورئ: شیبر ۵۴ – ۳۴، ۱۴ – ۶۸ «الف»

**پای کوتل**: وګورئ: جلمیش

**پای کوتل**: ۲۲ – ۳۴، ۳۷ – ۶۶ «ج»: دا د کابل – هزاره جات – دولت یار د عمومي سړک په اوږدو کې یو کلی دی.

**پای کرخ**: وګورئ: آق زرات [11] «۱»

**پای مینار**: ۳۶ – ۳۴، ۱۲ – ۶۹ «ن»: دا د کابل د شمال په شپږمایلی کې په ټیټو غرونو کې یو کوتل دی. کله چې په ۱۹۰۵ز کال کې له دې کوتل څخه لیدنه وسوه مقدماتی کار ورباندې روان وو خو هېڅکله بشپړ نهٔ سو، له کوتل څخه تېریدل له ډېریني لارې کېږي او ان د یو استوي آس سپور د تېریدلو لپاره هم سخته لاره ده. د کوتل په شمال کې د پای مینار کلی واقع دی او په سویل کې ئې د وزیر آباد د اوبو بند دی. (کابل مأموریت، ۱۹۰۵، آی. بي. سي) اوسنی نقشې د «مُنار» [12] نوم ښيي. (لودویګ آدمک)

**پای موري**: [13]: ۴۸ – ۳۴، ۱ – ۶۸ «ن»: دا د بامیانو په ولسوالي کې یو کلی دی چې په یوهٔ منځغري یا میان کوه کې واقع دی او د «درغان هزاره ګانو» [14] ۱۲ کورونه په کې دي. (امیر خان)

* **پاینده** : ۵۶ – ۳۳، ۹- ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په شمال کې د «کوهٔ یخاغان» [15] په سویل او د «شینې» [16] په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

**پاینده خاک**: – ۳۴، – ۷۱: دا د خیبر په کوتل کې له لنډي کوتل څخه ۲/۱ – ۶ مایله او په همدومره واټن له ډکې څخه لیرې یوه کوچنۍ پوسته ده. پر دې پوستې باندې له شمال لویدیځ لوري غرونه د توپک د ډز په لنډ واټن کې مسلط دي؛ په ۱۹۰۴ز کال کې کله چې لیدنه ورځخه وسوه په ډېر بد او ویجاړ حالت کې وه. په دې قرار ګاه کې ۵۰ تنه خاصه داران ځای پر ځای دی چې د «لي مت فوردس» [17] په ټوپکو سمبال دي. د افغان د دوهمې جګړې پر مهال د «دربند» [18] د کلي په لویدیځ کې د لوړو غرونو د یوې تشې له منځه به تل پر دې پوستې باندې بریدونه کېدل او بیا به لویدیځ لور ته په ننګرهار کې تر پش بولک پورې د غځیدلې مخ خلاصې دښتې له منځه د غلو برید وسو او یا به سویل لور ته د بازار د درې خوا ته ته د «سیوسبي» [19] د کوتل له لارې د لوټګرو برید وسو. د ۱۸۷۹ز کال په پسرلي کې کله چې کاروانونه له پاینده خاک څخه تېریدل نو هره ورځ بهٔ ډزې کېدلې. د کشف یو دقیق راپور د دې پوستې ارزښت څرګندوي؛ هره ورځ به چې د خاصه دارانو یوه پوسته به ځای پرځای سوه نو هر ډول مزاحمت به یو ناڅاپه ورک سو. یو بل دلیل چې دا ځای د لوټمارانو لپاره یو غوره ځای ګڼل کیدهٔ په لویدیځ اړخ کې د دربند د کوتل په نیمایي لاره کې د اوبو یوه کوچنۍ چینه ده چې د «ګرکي اوبهٔ» [20] په نوم یادېږي. دا د «لنډي خانه» او «هفت چاه» تر منځ یوازینۍ ځای دی چې په هر وچ فصل کې اوبهٔ لري، سره له دې چې د دې چینې اوبهٔ بدې او ډېرې لږ دي خو د دښمن لیکو ته نېږدې زموږ د ګورکه سرتېرو د کوچنۍ پوستې لپاره د ډېر ارزښت وړ وو؛ شک نهٔ سته چې د غلو او لوټمارو لپاره ئې هم ارزښت درلود.

8-PAI JEZKA
9-Dara -i- Syalayak
10-Badkhaneghar
11 -AKZARAT
12-Monar
13-PAIMURI
14-Darghan Hazaras
15-Koh-i-Yakhaghan
16-Shinia
17-Lee -Metfords
18-Darband
19-Sisobi pass
20-Gurrakki Obah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

څو مایله لیرې یوه ناله ده، له دې نالې څخه د نالې له کیڼې غاړې څخه د اوبو لګولو لپاره کوم وخت یوه زوړ نهر تېر سوی وو چې اوس نړیدلی دی، کیدای سي له همدې نالې څخه دغه ځای ته اوبه راوغځول سي. (ملسن، آی. بي. سي)

**پاینده خیل**: ۴۴ – ۳۴، ۴۰ – ۶۹ «الف» دا په کټواز کي د سلیمان خیل غلزیو یو کلی دی.

**پایو خیل**: [21]: دا د لوګر د درې په سویلي ویش کي یو کلی دی. دې کلي کي د غلزیو او سیدانو ۲۵ کورنۍ میشتي دي. (کلیفرد، ایوان سمیت)

**پای پلي**: وګورئ: سیفلي/ سیف علي - ژ: [22]: ۵۰ – ۳۲، ۲۷ – ۶۹ «ج»

* **پیتاب**: [23]: ۳۳ – ۳۴، ۴۰ – ۶۸ «ن»: دا د «جلریز» (جلیز) د شمال په نېږدې ۶ مایلی کي د میدان د سیند د یوې څانګې په اوږدو یو کلی دی.

**پیوند**: ۱۳ – ۳۴، ۳۱ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کي د «چرمې» د شمال په ۸ مایلی کي په درۀ جلګه کي یو کلی دی.

**پیوار کنډو**: ۵۸ – ۳۳، ۵۲ – ۶۹ «الف»: لوړوالی: ۸۵۳۱ فیټه. دا د هغې غرنۍ لړۍ په منځ کي یو کوتل دی چي په سپین غرۀ کي، سویل لور ته د «سیکارام» [24] له څوکي څخه راغځیدلي دی او کورم د «هاریوب» [25] له درې څخه ئې جلا کوي. د کوتل څوکه یا سر په هاریوب کي له «علي خیلو» څخه ۱۱ مایله لیرې ده او په کورم کي له «پاړه چنار» [26] څخه ۱۶ مایله لیرې دی. دلته په کوتل کي یوه افغان پوسته ده چي «وچه مارغه» نومېږي؛ دا پوسته د سړک په شمال کي لړ واټن وړاندي واقع ده؛ له پوستي څخه سړک نـۀ ښکاري؛ دلته د منظم پلي ځواک یوه قطعه ځای پر ځای ده. د کوتل له پاسه د هندوستان او افغانستان تر منځ د اتصال ستړي لیکي تللي دي. د ۱۸۷۸ز کال د دسمبر د میاشتي په دوهمي نیټي سر فریدریک رابرتس په دې کوتل باندي برید وکړ او کوتل ئې ونیوۀ. د دغو عملیاتو لپاره د نورې شرحي لپاره وګورئ: د «افغان دوهمي جګړې رسمي تأریخ» (آی. بي. سي)

**پاجه**: ۱۲ – ۳۵، ۱۳ – ۶۹ «ن»: دا د «پاجګاه» د کوتل د سویل په ۲۲ مایلی کي یو کلی دی چي ۲۰ کورونه لري. (سیدالله)

* **پاکه چینه**: ۴۷ – ۳۴، ۴۲ – ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کي د تګاب په سویل ختیځ کي «دارم دارم» [27] ته نېږدې یو کلی دی.

**پکه تـنګی**: [28]: دا له جلال آباد څخه ۱۰ مایله لیرې د کونړ په درې کي یو کلی دی چي څو خورې ورې جونګړې لري. (لیچ)

**پخه غی**: وګورئ: زنګه خان: [29]:

* **پخه مینه**: [30]: ۴ – ۳۴، ۵۵ – ۷۰ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کي د غني خیلو ته د تللي لارې په اوږدو کي شولګر ته نېږدې یو کلی دی.

**پکتیا**: ۳۵ – ۳۳، ۱۳ – ۶۹: دا د افغانستان په ختیځ کي یو ولایت دی چي ۱۷۷۷۲ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېـر ئې چي بزګرې پرګني دي د ۴۳۲۲۸۵ تر ۵۶۹۵۳۷ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. د دغـۀ ولایت کرښي په دې ډول دي :

---

21-PAIO KHEL
22-PAIPALI See SAIFALI
23-PAITAB
24- Sikaram peak : سیکارام یا سیکهارام او سیتا رام د اوسني سیدکرم اصلي او لرغونی نوم دی. - ژ
25-Hariob valley of Kurram
26-Parachinar, in Kurram
27-Daramdaram
28-PAKATANGI
29-PAKHAGHAI See ZANGAKHAN
30-PAKHA MINA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ




| | کلي | کروندگر وگړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکه په جريب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| اورگون | ۳۷ | ۱۹۶۲۴ | ۲۹۲۱ | ۱۰۹۴۰ | ۶۱۰ | ۱۱۵۵۰ | ۲۱۸۸ | ۱۲۲ | ۲۳۱۰ |
| تڼي «توني، تايو» | ۳۰ | ۸۶۲۲۸ | ۵۰۱۴ | ۱۳۲۰ | ۴۵۳۹۰ | ۴۶۷۱۰ | ۲۶۴ | ۹۰۷۸ | ۹۳۴۲ |
| ځاځي «علي خيل» | ۳۰ | ۴۹۱۶۶ | ۴۸۴۷ | ۱۲۲۳۰ | — | ۱۲۲۳۰ | ۲۴۴۶ | — | ۲۴۴۶ |
| ځاځي «ميدان» | ۴۶ | ۱۲۱۷۴ | ۲۷۸۰ | ۱۰۲۶۰ | ۴۱۲۰ | ۱۴۳۸۰ | ۲۰۵۲ | ۸۲۴ | ۲۸۷۶ |
| جاني خيل | ۴۰ | ۲۰۱۶۷ | ۲۲۸۰ | ۲۹۱۰ | ۶۶۰ | ۳۵۷۰ | ۵۸۲ | ۱۳۲ | ۷۱۴ |
| څمکني | ۲۵ | ۱۲۶۸۱ | ۱۸۰۰ | ۷۵۸۰ | ۶۸۰ | ۸۶۲۰ | ۱۵۱۶ | ۱۳۶ | ۱۶۵۲ |
| خوست | ۹۱ | ۴۲۵۹۷ | ۵۹۱۵ | ۷۸۱۲۰ | ۲۲۳۰ | ۸۰۳۵۰ | ۱۵۶۲۴ | ۴۴۶ | ۱۶۰۷۰ |
| زرمت | ۶۹ | ۳۲۸۰۷ | ۴۳۸۳ | ۱۸۰۶۰ | ۲۳۵۴۰ | ۴۱۶۰۰ | ۳۶۱۳ | ۴۷۰۸ | ۸۳۲۱ |

Table title: د کروندگرو وگړو او ترکښت لاندې ساحې اټکل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سپیره | ۱۸ | ۱۵۷۰۹ | ۲۵۰۵ | ۳۱۸۰ | — | ۳۱۸۰ | ۶۳۶ | — | ۶۳۶ |
| سیدکرم | ۱۰۰ | ۲۶۷۰۵ | ۴۷۶۶ | ۳۱۹۷۰ | ۱۴۰۶۰ | ۲۸۰۳۰ | ۲۷۹۴ | ۲۸۱۲ | ۵۶۰۶ |
| گردیز | ۴۹ | ۳۴۶۳۲ | ۳۳۶۴ | ۱۸۶۲۰ | ۳۲۰۰ | ۲۱۸۲۰ | ۳۷۲۴ | ۶۴۰ | ۴۳۶۴ |
| گومل | ۴۷ | ۲۵۹۴۲ | ۳۲۴۸ | ۶۰۸۰ | ۶۷۰ | ۶۷۵۰ | ۱۲۱۶ | ۱۳۴ | ۱۳۵۰ |
| موسی خیل | ۶۴ | ۲۰۹۴۷ | ۱۴۳۹ | ۱۰۶۰ | — | ۱۰۶۰ | ۲۱۲ | — | ۲۱۲ |
| ځدراڼ «وزیر» | ۳۹ | ۹۲۴۴ | ۱۸۳۹ | ۴۳۲۰ | ۱۱۷۰ | ۵۴۹۰ | ۸۶۴ | ۲۳۴ | ۱۰۹۸ |
| احمد خیل «حسن خیل» | ۱۴ | ۳۰۷۵ | ۴۸۵ | ۲۱۶۰ | — | ۲۱۶۰ | ۴۳۳ | — | ۴۳۳ |
| اورمه «ولمه» | ۱۰ | ۴۸۰۶ | ۳۸۵ | ۴۶۰ | ۱۲۰ | ۵۸۰ | ۹۲ | ۲۴ | ۱۱۶ |
| برگی | ۱۵ | ۲۳۰۶۰ | ۹۹۶ | ۸۲۰ | — | ۸۲۰ | ۱۶۴ | — | ۱۶۴ |
| باک «برگی» | ۱۴ | ۸۱۱۷ | ۱۲۸۱ | ۸۷۰۰ | — | ۸۷۰۰ | ۱۷۴۰ | — | ۱۷۴۰ |
| برمل | ۱۱ | ۴۲۴۳۲ | ۵۱۶۰ | ۲۰۲۰۰ | ۸۶۰۰ | ۲۸۸۰۰ | ۴۰۴۰ | ۱۷۲۰ | ۵۷۶۰ |
| پټان «ډنډ» | ۱۱ | ۳۴۶۱ | ۴۱۱ | ۹۴۰ | ۷۳۰ | ۱۶۷۰ | ۱۸۸ | ۱۴۶ | ۳۳۴ |
| ترایزي «علي شیر» | ۲۴ | ۱۰۷۶۶ | ۱۶۴۱ | ۱۱۹۰۱۰ | ۳۲۲۰ | ۱۵۱۳۰ | ۲۳۸۲ | ۶۴۴ | ۳۰۲۶ |
| دره درنگ | ۴ | ۲۹۷۴ | ۳۰۰ | ۲۹۰ | — | ۲۹۰ | ۵۸ | — | ۵۸ |
| زیروک | ۱۶ | ۱۹۹۸۷ | ۲۱۶۱ | ۲۹۳۰ | ۲۰ | ۲۹۵۰ | ۵۸۶ | ۴ | ۵۹۰ |
| سروبي | ۱۶ | ۷۹۸۱ | ۱۴۹۸ | ۴۹۷۰ | ۱۸۲۰ | ۶۷۹۰ | ۹۹۴ | ۳۶۴ | ۱۳۵۸ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۱۵ | ۱۹۳۰۹ | ۲۸۵۹ | ۱۶۸۰ | ۴۳۰ | ۲۱۱۰ | ۳۳۶ | ۸۶ | ۴۲۲ |
| شاوک | ۱۵ | ۱۰۱۷۰ | ۳۷۹ | ۳۲۰ | — | ۳۲۰ | ۶۴ | — | ۶۴ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۵۵ | ۲۴۰۱۶ | ۳۳۱۷ | ۶۸۳۰ | ۳۵۹۷۰ | ۴۲۸۰۰ | ۱۳۶۶ | ۷۱۹۴ | ۸۵۶۰ |
| قلندر | ۱۲ | ۲۸۵۱ | ۲۲۵ | ۳۰ | — | ۳۰ | ۶ | — | ۶ |
| گربز «گریز» | ۲۷ | ۲۱۵۶۶ | ۲۱۳۸ | ۸۸۰ | ۳۱۵۰ | ۴۰۳۰ | ۱۷۶ | ۶۳۰ | ۸۰۶ |
| گیان | ۱۴ | ۱۴۶۶۳ | ۲۶۵۰ | ۳۷۴۰ | — | ۳۷۴۰ | ۷۴۸ | — | ۷۴۸ |
| لاج منگل «لجه» | ۱۳ | ۳۳۱۷ | ۳۵۵ | ۵۳۰ | — | ۵۳۰ | ۱۰۶ | — | ۱۰۶ |
| متاخان «میتاخیل» | ۲۲ | ۱۲۹۰۳ | ۸۷۱ | ۴۵۸۰ | ۱۰۰ | ۴۶۸۰ | ۹۱۶ | ۲۰ | ۹۳۶ |
| مندوزي | ۲۰ | ۳۸۷۹۰ | ۳۴۴۹ | ۱۶۰۰۰ | ۵۹۶۰ | ۲۱۹۶۰ | ۳۲۰۰ | ۱۱۹۲ | ۴۳۹۲ |
| نادر شاه کوټ | ۱۹ | ۱۷۱۱۰ | ۱۱۶۶ | ۴۲۱۰ | ۳۹۰ | ۴۶۰۰ | ۸۴۲ | ۷۸ | ۹۲۰ |
| نکه | ۵ | ۴۱۰۱ | ۵۶۰ | ۸۷۰ | — | ۸۷۰ | ۱۷۴ | — | ۱۷۴ |
| ټولټال | ۱۰۳۷ | ۷۰۴۶۹۰ | ۷۹۴۰۰ | ۲۸۱۷۰۰ | ۱۵۶۸۴۰ | ۴۳۸۵۴۰ | ۵۶۳۴۰ | ۳۱۳۶۸ | ۸۷۷۰۸ |

د کورنیو څارویو احصائیوي اټکل په ولسوالي او علاقه داری

| | پسونه | قره قل پسونه | وزې | غواګانې | ګاومیښې | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورګون | ۳۲۹۹ | — | ۵۸۱۷ | ۵۴۳۱ | — | ۲۵۸ | ۸۷ | ۱۵۶۹ | — | ۱۲۵۸۰ |
| تني «توني، تایو» | ۱۴۲۰۰ | — | ۳۰۶۰ | ۲۴۰۹۰ | — | — | — | ۱۰۵۳۵ | — | ۸۷۲۷۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ځاځي «علي خيل» | ۳۶۲۹ | — | ۶۴۵۰ | ۳۷۱۲ | — | ۳۲۷ | — | ۱۰۱۵ | ۱۱۲۲ | ۷۹۳۵ |
| ځاځي «ميدان» | ۳۳۶۴ | — | ۱۵۳۳۴ | ۱۱۲۲۳ | ۲۸۶ | ۳۶ | ۶۵ | ۱۱۲۶ | ۱۰۴۸ | ۸۵۵۷ |
| جاني خيل | ۱۱۵۰ | — | ۵۸۶۱ | ۴۱۱۰ | ۵ | ۲۴۰ | — | ۴۵۸ | — | ۹۲۸۶ |
| څمکني | ۱۶۴۸ | — | ۹۸۶۴ | ۵۰۴۴ | ۷۱ | ۶۷۷ | ۲ | ۱۰۶۲ | ۱۰۳۴ | ۶۱۹۰ |
| خوست | ۳۷۴۵۹ | — | ۴۰۶۹ | ۲۶۶۷۸ | ۳۰۷۹ | ۱۰۵ | ۱۰۸ | ۶۰۸۰ | — | ۳۶۸۳۹ |
| زرمت | ۶۸۴۰ | — | ۲۷۹۶ | ۷۶۶۴ | ۲۶۵ | ۱۲ | ۱۳۰ | ۳۲۸۸ | — | ۱۴۴۸۸ |
| سپيره | ۹۲۸ | — | ۳۹۹۹ | ۱۷۰۳ | — | ۱۹۹ | ۲۲ | ۱۶۷ | — | ۵۶۹۸ |
| سيدکرم | ۶۴۶۲ | — | ۳۵۰۴ | ۱۰۵۱۸ | ۷۹۴ | ۲۹۵ | ۱۲۶ | ۱۰۶۵ | ۱۱۹۵ | ۲۲۳۵۵ |
| گرديز | ۲۱۸۶ | — | ۵۹۸ | ۳۶۴۷ | — | — | ۵ | ۱۵۰۶ | — | ۷۰۰۰ |
| گومل | ۱۴۳۳۴ | — | ۲۴۲۸۶ | ۶۰۶۱ | — | ۸۶۸ | — | ۱۳۱۴ | — | ۱۶۶۱۵ |
| موسی خيل | ۲۰ | — | ۱۴۳۲۰ | ۵۱۷۸ | — | ۱۷۷۹ | — | ۹۲۰ | — | ۱۳۱۱۰ |
| ځدراڼ «وزير» | ۲۷۲۴ | — | ۵۹۹۸ | ۶۹۴ | — | ۸۴۸ | — | ۳۹۰ | — | ۹۱۷۰ |
| احمد خيل «حسن خيل» | ۱۴۳۱ | — | ۸۲۰ | ۲۵۰۴ | ۷۸ | ۱۸۰ | ۱۷ | ۲۷۲ | ۱۱۴۰ | ۱۴۱۴ |
| اورمه «ولمه» | ۶۲۸ | — | — | ۱۲۰۰ | — | — | — | ۱۸۸۷ | — | ۳۰۵۰ |
| برگی | ۱۰ | — | ۳۵۵۰ | ۴۰۰ | — | ۶۷ | — | ۵۷ | — | ۷۶۶۰ |
| باک «برگی» | ۱۲۲۴ | — | ۴۲۹۹ | ۵۷۲۱ | ۷۴۲ | — | ۷۴ | ۱۰۶۹ | — | ۲۲۴۵ |
| برمل | ۳۱۳۰ | — | ۱۶۲۰۰ | ۷۵۶۰ | — | ۱۳۲۶ | — | ۱۴۳۴ | — | ۱۲۶۲۰ |
| پټان «ډنډ» | ۴۱۰ | — | ۱۰۸۰ | ۷۸۵ | ۲۵ | ۹۵۴ | ۶ | ۱۰۸۵ | ۲۱۱۸ | ۱۴۰۰ |
| ترايزي «علي شير» | ۵۱۸۵ | — | ۳۲۵۱ | ۸۷۳۳ | ۴۹۴ | ۹۰ | ۵۷ | ۲۴۱ | ۱۳۲۲ | ۶۶۹۷ |
| دره درنگ | ۱۰۲ | — | ۱۶۴۵ | ۳۴۰ | — | ۱۵۵ | — | ۱۶ | — | ۱۰۶۰ |
| زيږوک | — | — | ۱۰۰۲۰ | ۱۲۵۶۸ | — | ۳۶۸ | — | ۱۰۱۶ | — | ۸۳۵۰ |
| سروبي | ۳۷۳۲ | — | ۳۴۲۷ | ۱۶۲۸ | — | ۲۴۹ | — | ۸۱۱ | ۳۱۷ | ۳۳۹۰ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۴۴۱ | — | ۱۸۰۰ | ۱۲۵۶ | — | ۳۶ | ۵ | ۱۰۶۹ | ۲۴ | ۴۴۱۵ |
| شاوک | ۲۰ | — | — | ۱۸۰ | — | — | — | ۷۰۴ | — | ۳۹۴۲ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۱۴۰۰۴ | — | ۲۷۳۳ | ۱۲۵۲۰ | ۹۲۱ | ۴ | ۹۸ | ۱۷۹۳ | ۲۰ | ۱۳۶۶۱ |
| قلندر | ۱۷۰ | — | ۸۶۰ | ۴۰۰ | — | ۹۰ | — | ۶۸ | — | ۱۷۱۳ |
| گربز «گريز» | ۶۸۷۱ | — | ۵۵۰ | ۶۲۸۰ | — | ۱۱۵ | — | ۱۵۶۴ | — | ۱۱۷۶۹ |
| گيان | — | — | ۵۷۷۱۰ | ۴۷۲۵ | — | ۱۵۶۲ | ۸۳ | ۹۸۴ | — | ۱۱۹۸۰ |
| لاج منگل «لجه» | ۲۱۱ | — | ۲۵۰۸ | ۵۰۸ | — | ۱۹۸ | — | ۲۹۱ | ۴۰ | ۲۳۳۹ |
| متاخان «ميتاخيل» | ۴۸۴۹ | — | ۵۷۸ | ۲۷۱۸ | — | ۴۳ | ۳۵ | ۱۱۵۵ | — | ۶۴۹۵ |
| مندوزي | ۵۲۷۰ | — | ۷۵۸۲ | ۲۷۳۸ | ۱۵۰ | ۹۰ | ۹۰ | ۱۱۷۳ | — | ۷۶۵۵۰ |
| نادر شاه کوټ | ۱۰۲۶ | — | ۹۲۳ | ۱۳۵۸ | — | ۴۹ | — | ۳۹۴ | — | ۴۷۹۷ |
| نکه | ۲۱۱ | — | ۱۵۶۸ | ۶۴۵ | — | ۱۴۰ | — | ۳۳۶ | — | ۲۵۵۰ |
| ټولټال | ۱۴۷۱۷۰ | — | ۲۲۷۰۶۰ | ۱۹۰۴۲۰ | ۶۹۱۰ | ۱۱۳۹۰<br>*۱۱۳۶۰ | ۱۰۱۰ | ۴۷۹۶۰ | ۹۳۸۰ | ۳۹۵۱۹۰ |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

| | ساحه په جريب | | | | ټولټال | د سرچينو شمېر | | | | د اوبو ژرندې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نهرونه | چيني | کاريزونه | څاهان | | نهرونه | چيني | کاريزونه | څاهان | |
| اورگون | ۷۴۴۰ | — | ۳۵۰۰ | — | ۱۰۹۴۰ | ۹ | ۲ | ۳۱ | ۱۴۹ | ۴۵ |
| تني «توني، تايو» | ۶۳۰ | ۵۹۰ | ۱۰۰ | — | ۱۳۲۰ | ۱۱ | ۳ | — | — | ۳ |
| خاځي «علي خيل» | ۱۲۰۱۰ | ۲۲۰ | — | — | ۱۲۲۳۰ | ۱۸ | ۱۸ | ۳ | ۳۰ | ۷۹ |
| خاځي «ميدان» | ۴۶۱۰ | ۵۶۵۰ | — | — | ۱۰۲۶۰ | ۴ | ۱۷ | — | ۴۸ | ۴۷ |
| جاني خيل | ۲۲۹۰ | ۳۵۰ | ۲۷۰ | — | ۲۹۱۰ | ۲۲ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۱ | ۲۶ |
| ځمکني | ۶۱۶۰ | ۶۶۰ | ۷۶۰ | — | ۷۵۸۰ | ۱۶ | ۸ | ۸ | ۶۳ | ۴۶ |
| خوست | ۷۵۲۶۰ | ۵۶۰ | ۱۹۴۰ | — | ۷۸۱۲۰ | ۴۶ | ۲ | ۳ | — | ۳۷ |
| زرمت | ۷۲۵۰ | ۹۰۰ | ۹۹۱۰ | — | ۱۸۰۶۰ | ۴۴ | ۷ | — | ۶۶ | ۵۲ |
| سپيره | ۲۸۲۰ | ۳۶۰ | — | — | ۳۱۸۰ | ۱۴ | — | — | — | ۸ |
| سيدکرم | ۱۰۱۲۰ | ۳۷۰۰ | ۱۵۰ | — | ۱۳۹۷۰ | ۵۰ | ۱۹۱ | ۳۵۵ | ۲۳ | ۱۸۱ |
| گومل | ۴۸۷۰ | ۱۱۷۰ | ۴۰ | — | ۶۰۸۰ | ۳۹ | ۸ | ۱ | — | ۲۵ |
| گرديز | ۱۵۵۲۰ | ۲۵۰۰ | ۶۰۰ | — | ۱۸۶۲۰ | ۲۴ | ۱۰ | ۱۹ | ۱۰۸ | ۷۵ |
| موسی خيل | ۹۴۰ | ۱۱۰ | ۱۰ | — | ۱۰۶۰ | ۴۶ | ۹ | ۵ | — | ۵۷ |
| ځدران «وزير» | ۴۰۵۰ | — | ۲۷۰ | — | ۴۳۲۰ | ۳۴ | ۱ | ۲ | — | ۷۴ |
| احمد خيل «حسن خيل» | ۱۶۶۰ | ۵۰۰ | — | — | ۲۱۶۰ | ۵ | ۶ | — | ۳۱ | ۲۸ |
| اورمه «ولمه» | ۲۶۰ | ۱۴۰ | ۶۰ | — | ۴۶۰ | ۱۰ | ۱۴ | — | ۲۳ | ۱۸ |
| برگي | ۶۷۰ | ۱۵۰ | — | — | ۸۲۰ | ۱۲ | ۴ | — | — | — |
| باک «برگي» | ۸۷۰۰ | — | — | — | ۶۷۰۰ | ۵ | ۲ | — | ۱۲ | ۲۷ |
| برمل | ۱۸۲۰۰ | ۵۰۰ | ۱۵۰۰ | — | ۲۰۲۰۰ | ۶ | — | ۱ | — | ۱۶ |
| پټان «ډند» | ۸۸۰ | — | ۶۰ | — | ۹۴۰ | ۷ | ۲ | ۱ | ۲۵ | ۱۲ |
| ترايزي «علي شير» | ۹۰۸۰ | ۹۳۰ | ۱۹۰۰ | — | ۱۱۹۱۰ | ۱۴ | ۶ | ۱۷ | ۳۵ | ۳۱ |
| دره درنگ | ۲۹۰ | — | — | — | ۲۹۰ | ۳ | ۳ | — | — | ۸ |
| زيروک | ۹۷۰ | ۱۹۶۰ | — | — | ۲۹۳۰ | ۱۵ | ۴ | ۲ | — | ۲۸ |
| سروبي | ۴۴۷۰ | — | ۵۰۰ | — | ۴۹۷۰ | ۷ | — | ۱۶ | ۸ | ۴ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۱۰۴۰ | ۶۴۰ | — | — | ۱۶۸۰ | ۸ | ۷ | — | ۴۱ | ۶۲ |
| شاوک | ۲۳۰ | ۹۰ | — | — | ۲۳۰ | ۱۵ | ۱۰ | ۱ | ۵ | ۷ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۶۶۶۰ | ۱۰۰ | ۷۰ | — | ۶۸۳۰ | ۲۲ | ۸ | ۱۴ | ۳۵ | ۲۷ |
| قلندر | ۳۰ | — | — | — | ۳۰ | ۱۶ | ۱ | ۱ | ۱۱ | ۱۷ |
| گربز «گريز» | ۴۴۰ | — | ۱۲۰ | ۳۲۰ | ۸۸۰ | ۳ | — | — | ۶۱ | ۱ |
| گيان | ۶۳۰ | ۹۵۰ | ۲۱۶۰ | — | ۳۷۴۰ | ۲۰ | ۳ | ۱۳ | — | ۲۷ |

ټر کښت لاندې ځمکې او د اوبو لګولو سرچينې ئـې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لاج منګل «لجه» | ۴۲۰ | — | ۱۱۰ | — | ۵۳۰ | ۶ | ۳ | ۵ | ۱۱ | ۹ |
| متاخان «میتاخیل» | ۲۳۸۰ | — | ۲۲۰۰ | — | ۴۵۸۰ | ۲۲ | ۳ | ۲۳ | ۲ | ۸ |
| مندوزي | ۱۳۴۰۰ | — | ۲۶۰۰ | — | ۱۶۰۰۰ | ۱۵ | ۱ | ۳ | — | ۵۱ |
| نادر شاه کوټ | ۳۴۹۰ | ۲۶۰ | ۴۵۰ | ۱۰ | ۴۲۱۰ | ۳۲ | ۲۴ | ۸ | ۲ | ۳۵ |
| نکه | ۴۷۰ | ۴۰۰ | — | — | ۸۷۰ | ۵ | ۳ | ۱ | — | — |
| ټولټال | ۲۲۸۷۰۰ | ۲۳۳۹۰ | ۲۹۳۹۰ | ۳۳۰ | ۲۸۱۷۰۰ | ۶۲۵ | ۳۹۲ | ۵۲۸ | ۸۰۰ | ۱۱۷۱ |

| | د کرنیزو محصولاتو تولید په کابلي سیر | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | غلات | | | سابـهٔ | نور محصولات | | |
| | خړوبه | للمه | ټولټال | | صنعتي محصولات | نور مؤقت محصولات | میوه |
| اورګون | ۳۷۸۴۵۰ | ۳۴۵۰ | ۳۸۱۹۰۰ | ۱۱۹۷۰۰ | — | ۹۲۰۰۰ | ۱۲۰۰۰۰ |
| تني «توني، تایو» | ۵۱۳۰۰ | ۳۱۲۳۰۰ | ۳۶۳۶۰۰ | — | — | — | ۱۲۹۶۰۰ |
| ځاځي «علي خیل» | ۴۳۰۶۵۰ | — | ۴۳۰۶۵۰ | ۱۰۷۷۳۰ | ۳۵۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ۸۳۲۰۰ |
| ځاځي «میدان» | ۳۵۱۰۰۰ | ۲۷۴۵۰ | ۳۷۸۴۵۰ | ۹۴۰۵۰ | — | ۸۶۰۰۰ | ۹۲۸۰۰ |
| جاني خیل | ۹۹۹۰۰ | ۴۵۰۰ | ۱۰۴۴۰۰ | ۲۵۶۵۰ | — | ۳۰۰۰۰ | ۳۶۸۰۰ |
| څمکني | ۲۶۲۳۵۰ | ۴۵۰۰ | ۲۶۶۸۵۰ | ۶۸۴۰۰ | ۱۳۶۵۰۰ | ۸۰۰۰۰ | ۷۵۲۰۰ |
| خوست | ۲۶۷۲۱۰۰ | ۱۴۸۵۰ | ۲۶۸۶۹۵۰ | ۷۱۳۰۷۰ | — | ۱۱۱۴۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |
| زرمت | ۵۸۱۴۰۰ | ۳۰۷۲۰۰ | ۸۸۸۶۰۰ | ۲۶۳۳۴۰ | — | ۱۵۰۰۰۰ | ۴۶۷۲۰۰ |
| سپیره | ۱۱۹۲۵۰ | — | ۱۱۹۲۵۰ | — | — | ۱۴۰۰۰ | ۲۲۴۰۰ |
| سیدکرم | ۵۰۶۲۵۰ | ۹۵۵۵۰ | ۶۰۱۸۰۰ | ۱۲۸۲۵۰ | — | ۵۸۰۰۰ | ۱۶۶۴۰۰ |
| ګردیز | ۲۳۱۷۵۰ | ۴۲۰۰ | ۲۳۵۹۵۰ | — | — | ۶۰۰۰ | ۹۶۰۰ |
| ګومل | ۶۹۷۰۵۰ | ۲۱۰۰۰ | ۷۱۸۰۵۰ | — | — | ۱۹۴۰۰۰ | ۲۲۴۰۰ |
| موسی خیل | ۳۷۳۵۰ | — | ۳۷۳۵۰ | ۱۱۹۷۰ | — | ۶۰۰۰ | ۸۰۰۰ |
| ځدراڼ «وزیر» | ۱۵۶۶۰۰ | ۵۷۰۰ | ۱۶۲۳۰۰ | — | — | ۴۸۰۰۰ | ۱۰۰۸۰۰ |
| احمد خیل «حسن خیل» | ۸۱۴۵۰ | — | ۸۱۴۵۰ | ۲۲۲۳۰ | — | ۱۲۰۰۰ | ۱۶۰۰۰ |
| اورمه «ولمه» | ۱۶۶۵۰ | ۹۰۰ | ۱۷۵۵۰ | — | — | ۸۰۰۰ | ۶۴۰۰ |
| برګی | ۳۰۱۵۰ | — | ۳۰۱۵۰ | — | — | ۱۰۰۰۰ | ۶۴۰۰ |
| باک «برګی» | ۳۱۵۰۰۰ | — | ۳۱۵۰۰۰ | ۳۲۴۹۰ | — | ۷۲۰۰۰ | ۴۱۶۰۰ |
| برمل | ۷۳۱۷۰۰ | ۳۶۱۵۰ | ۷۶۷۸۵۰ | ۱۸۴۶۸۰ | — | — | ۷۲۸۰۰۰ |
| پټان «ډنډ» | ۳۲۴۰۰ | ۴۹۵۰ | ۳۷۳۵۰ | ۸۵۵۰ | — | ۱۶۰۰۰ | ۱۲۸۰۰ |
| ترایزي «علي شیر» | ۴۰۷۲۵۰ | ۱۵۴۵۰ | ۴۲۲۷۰۰ | ۲۱۸۸۸۰ | — | ۴۸۰۰۰ | ۱۰۷۲۰۰ |
| دره درنګ | ۱۰۳۵۰ | — | ۱۰۳۵۰ | ۶۸۴۰ | — | ۸۰۰۰ | ۳۲۰۰ |
| زیروک | ۱۰۰۳۵۰ | ۱۵۰ | ۱۰۰۵۰۰ | ۲۷۳۶۰ | — | ۳۰۰۰۰ | ۳۵۲۰۰ |
| سروبي | ۱۷۵۹۵۰ | ۱۲۱۵۰ | ۱۸۸۱۰۰ | ۴۷۸۸۰ | — | ۴۲۰۰۰ | ۴۸۰۰۰ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۵۰۴۰۰ | ۲۷۰۰ | ۵۳۱۰۰ | ۱۷۱۰۰ | — | ۱۲۰۰۰ | ۱۷۶۰۰ |
| شاوک | ۱۱۷۰۰ | — | ۱۱۷۰۰ | — | — | ۲۰۰۰ | ۴۸۰۰ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۲۷۸۵۵۰ | ۲۳۸۰۵۰ | ۵۱۶۶۰۰ | ۶۴۹۸۰ | — | ۵۶۰۰۰ | ۸۰۰۰۰ |
| قلندر | ۱۳۵۰ | — | ۱۳۵۰ | — | — | — | — |
| ګربز «ګریز» | ۳۲۸۵۰ | ۲۱۶۰۰ | ۵۴۴۵۰ | — | ۳۰۰ | ۱۰۰۰۰ | ۹۶۰۰ |
| ګیان | ۱۴۸۵۰ | — | ۱۴۸۵۰ | ۵۱۳۰ | — | ۴۰۰۰ | ۳۲۰۰ |
| لاج منګل «لجه» | ۱۴۰۸۵۰ | — | ۱۴۰۸۵۰ | — | — | ۳۴۰۰۰ | — |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| متاخان «میتاخیل» | ۱۶۹۶۵۰ | ۷۵۰ | ۱۷۰۴۰۰ | ۳۴۲۰۰ | — | ۲۰۰۰۰ | ۲۲۴۰۰ |
| مندوزي | ۶۰۰۳۰۰ | ۳۹۷۵۰ | ۶۴۰۰۵۰ | ۵۸۱۴۰ | — | ۶۸۰۰۰ | ۱۵۵۲۰۰ |
| نادر شاه کوټ | ۱۱۲۰۵۰ | ۲۷۰۰ | ۱۱۴۷۵۰ | ۱۵۳۹۰ | — | ۱۸۰۰۰ | ۴۶۴۰۰ |
| نکه | ۲۸۸۰۰ | — | ۲۸۸۰۰ | ۱۰۲۶۰ | ۱۴۰۰ | ۸۰۰۰ | ۹۶۰۰ |
| تولټال | ۹۹۱۸۰۰۰ | ۱۱۷۶۰۰۰ | ۱۱۰۹۴۰۰۰ | ۲۲۸۶۲۷۰ | ۱۴۱۷۰۰ | ۲۴۳۲۰۰۰ | ۲۸۸۸۰۰۰ |

| | د کښت وړ ځمکو تولټال په محصول، په کابلي جریب | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | غلات | | | سابـۀ | صنعتي محصولات | نور محصولات | میوه | د کښت وړ ځمکو تولټال |
| | خړوبه | للمه | تولټال | | | | | |
| اورگون | ۸۴۱۰ | ۲۳۰ | ۸۶۴۰ | ۷۰۰ | — | ۴۶۰ | ۷۵۰ | ۱۰۵۵۰ |
| تني «توني، تایو» | ۱۱۴۰ | ۲۰۸۲۰ | ۲۱۹۶۰ | — | — | — | ۸۱۰ | ۲۲۷۷۰ |
| ځاځي «علي خیل» | ۹۵۷۰ | — | ۹۵۷۰ | ۶۳۰ | — | ۲۵۰ | ۵۲۰ | ۱۰۹۷۰ |
| ځاځي «میدان» | ۷۸۰۰ | ۱۸۳۰ | ۹۶۳۰ | ۵۵۰ | ۱۰۰ | ۴۳۰ | ۵۸۰ | ۱۱۲۹۰ |
| جاني خیل | ۲۲۲۰ | ۳۰۰ | ۲۵۲۰ | ۱۵۰ | | ۱۵۰ | ۲۳۰ | ۳۰۵۰ |
| څمکني | ۵۸۳۰ | ۳۰۰ | ۶۱۳۰ | ۴۰۰ | | ۴۰۰ | ۴۷۰ | ۷۴۰۰ |
| خوست | ۵۹۳۸۰ | ۹۹۰ | ۶۰۳۷۰ | ۴۱۷۰ | ۳۹۰۰ | ۵۷۰۰ | ۱۲۵۰ | ۷۵۳۹۰ |
| زرمت | ۱۲۹۲۰ | ۲۰۴۸۰ | ۳۳۴۰۰ | ۱۵۴۰ | — | ۷۵۰ | ۲۹۲۰ | ۳۸۶۱۰ |
| سپیره | ۲۶۵۰ | — | ۲۶۵۰ | — | — | ۷۰ | ۱۴۰ | ۲۸۶۰ |
| سیدکرم | ۱۱۲۵۰ | ۶۳۷۰ | ۱۷۶۲۰ | ۷۵۰ | — | ۲۹۰ | ۱۰۴۰ | ۱۹۷۰۰ |
| گومل | ۵۱۵۰ | ۲۸۰ | ۵۴۳۰ | — | — | ۳۰ | ۶۰ | ۵۵۲۰ |
| گردیز | ۱۵۴۹۰ | ۱۴۰۰ | ۱۶۸۹۰ | — | — | ۹۷۰ | ۱۴۰ | ۱۸۰۰۰ |
| موسی خیل | ۸۳۰ | — | ۸۳۰ | ۷۰ | — | ۳۰ | ۵۰ | ۹۸۰ |
| ځدراڼ «وزیر» | ۳۴۸۰ | ۳۸۰ | ۳۸۶۰ | — | — | ۲۴۰ | ۶۳۰ | ۴۷۳۰ |
| احمد خیل «حسن خیل» | ۱۸۱۰ | — | ۱۸۱۰ | ۱۳۰ | — | ۶۰ | ۱۰۰ | ۲۱۰۰ |
| اورمه «ولمه» | ۳۷۰ | ۶۰ | ۴۳۰ | — | — | ۴۰ | ۴۰ | ۵۱۰ |
| برگی | ۶۷۰ | — | ۶۷۰ | — | — | ۵۰ | ۴۰ | ۷۶۰ |
| باک «برگی» | ۷۰۰۰ | — | ۷۰۰۰ | ۱۹۰ | — | ۳۶۰ | ۲۶۰ | ۷۸۱۰ |
| برمل | ۱۶۲۶۰ | ۲۴۱۰ | ۱۸۶۷۰ | ۱۰۸۰ | — | — | ۴۵۵۰ | ۲۴۳۰۰ |
| پټان «ډنډ» | ۷۲۰ | ۳۳۰ | ۱۰۵۰ | ۵۰ | — | ۸۰ | ۸۰ | ۱۲۶۰ |
| ترایزي «علي شیر» | ۹۰۵۰ | ۱۰۳۰ | ۱۰۰۸۰ | ۱۲۸۰ | — | ۲۴۰ | ۶۷۰ | ۱۲۲۷۰ |
| دره درنگ | ۲۳۰ | — | ۲۳۰ | ۴۰ | — | ۴۰ | ۲۰ | ۳۳۰ |
| زیړوک | ۲۲۳۰ | ۱۰ | ۲۲۴۰ | ۱۶۰ | — | ۱۵۰ | ۲۲۰ | ۲۷۷۰ |
| سروبي | ۳۹۱۰ | ۸۱۰ | ۴۷۲۰ | ۲۸۰ | — | ۲۱۰ | ۳۰۰ | ۵۵۱۰ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۱۱۲۰ | ۱۸۰ | ۱۳۰۰ | ۱۰۰ | — | ۶۰ | ۱۱۰ | ۱۵۷۰ |
| شاوک | ۲۶۰ | — | ۲۶۰ | — | — | ۱۰ | ۳۰ | ۳۰۰ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۶۱۹۰ | ۱۵۸۷۰ | ۲۲۰۶۰ | ۳۸۰ | — | ۲۸۰ | ۵۰۰ | ۲۳۲۲۰ |
| قلندر | ۳۰ | — | ۳۰ | — | — | — | — | ۳۰ |
| گربز «گریز» | ۷۳۰ | ۱۴۴۰ | ۲۱۷۰ | — | ۱۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۲۲۹۰ |
| لاج منگل « لجه » | ۳۳۰ | — | ۳۳۰ | ۳۰ | — | ۲۰ | ۲۰ | ۴۰۰ |
| گیان | ۳۱۳۰ | — | ۳۱۳۰ | — | — | ۱۷۰ | — | ۳۳۰۰ |
| متاخان «میتاخیل» | ۳۷۷۰ | ۵۰ | ۳۸۲۰ | ۲۰۰ | — | ۱۰۰ | ۱۴۰ | ۴۲۶۰ |
| مندوزي | ۱۳۳۴۰ | ۲۶۵۰ | ۱۵۹۹۰ | ۳۴۰ | — | ۳۴۰ | ۹۷۰ | ۱۷۶۴۰ |
| نادر شاه کوټ | ۲۴۹۰ | ۱۸۰ | ۲۶۷۰ | ۹۰ | — | ۹۰ | ۲۷۰ | ۳۱۲۰ |
| نکه | ۶۴۰ | — | ۶۴۰ | ۶۰ | ۴۰ | ۴۰ | ۶۰ | ۸۴۰ |
| تولټال | ۲۲۰۴۰۰ | ۷۸۴۰۰ | ۲۹۸۸۰۰ | ۱۳۳۷۰ | ۴۰۵۰ | ۱۲۱۶۰ | ۱۸۰۳۰ | ۳۴۶۴۱۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

|  | د کښت وړ ځمکو ټول ټال په کابلي جریب | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
|  | ټول ټال | پووندي | ځنګلونه | تر کښت لاندي | هغه ځمکې چې یو کال کرل کېږي او بل کال نـهٔ کرل کېږي |
| اورګون | ۹۸۰۳۰ | ۷۹۷۰ | ۷۸۵۱۰ | ۱۱۵۵۰ | ۳۰۹۰ |
| تني «توني، تایو» | ۵۳۱۸۰ | ۴۸۷۰ | ۱۶۰۰ | ۴۶۷۱۰ | ۲۱۱۲۰ |
| ځاځي «علي خیل» | ۵۹۹۸۰ | ۴۳۲۰ | ۴۳۴۳۰ | ۱۲۲۳۰ | ۳۳۷۰ |
| ځاځي «میدان» | ۳۱۶۷۰ | ۲۹۵۰ | ۱۴۳۴۰ | ۱۴۳۸۰ | ۴۵۲۰ |
| جاني خیل | ۱۱۱۶۸۲۰ | ۲۵۲۰ | ۱۱۱۰۷۳۰ | ۳۵۷۰ | ۱۰۵۰ |
| ځمکني | ۵۴۶۰۰ | ۲۲۷۰ | ۴۴۰۷۰ | ۸۲۶۰ | ۳۲۶۰ |
| زرمت | ۵۱۵۰۰ | ۹۹۰۰ | — | ۴۱۶۰۰ | ۵۷۲۰ |
| خوست | ۹۳۶۸۰ | ۱۷۷۰ | ۱۱۵۶۰ | ۸۰۳۵۰ | ۲۲۰۹۰ |
| سپیره | ۱۱۲۷۷۰ | ۳۵۰۰ | ۱۰۶۰۹۰ | ۳۱۸۰ | ۸۴۰ |
| سیدکرم | ۳۱۶۹۰ | ۳۶۶۰ | — | ۲۸۰۳۰ | ۱۰۰۴۰ |
| ګومل | ۲۲۶۲۰ | ۱۷۹۰ | ۱۴۰۸۰ | ۶۷۵۰ | ۲۷۸۰ |
| ګردیز | ۲۴۳۳۰ | ۱۹۹۰ | ۵۲۰ | ۲۱۸۲۰ | ۶۲۵۰ |
| موسی خیل | ۲۶۳۲۹۰ | ۴۱۶۳۰ | ۲۲۰۶۰۰ | ۱۰۶۰ | ۱۹۰ |
| ځدراڼ «وزیر» | ۵۲۵۴۰ | ۱۰۷۰ | ۴۵۹۸۰ | ۵۴۹۰ | ۱۱۶۵۵ |
| احمد خیل «حسن خیل» | ۳۷۵۰ | ۱۲۰۰ | ۳۹۰ | ۲۱۶۰ | ۵۰۰ |
| اورمه «ولمه» | ۸۳۴۰ | ۵۴۰۰ | ۲۳۶۰ | ۵۸۰ | ۲۵۰ |
| برګی | ۷۷۳۰ | ۶۱۷۰ | ۷۴۰ | ۸۲۰ | ۲۲۰ |
| باک «برګی» | ۱۲۵۶۰ | ۶۴۰ | ۳۲۲۰ | ۸۷۰۰ | ۲۲۳۰ |
| برمل | ۱۰۲۸۲۰ | ۳۳۳۰ | ۷۰۶۹۰ | ۲۸۸۰۰ | ۹۰۳۰ |
| پټان «ډنډ» | ۶۲۸۵۰ | ۲۴۴۰ | ۵۸۷۴۰ | ۱۶۷۰ | ۵۷۰ |
| ترایزي «علي شیر» | ۵۵۳۴۰ | ۱۹۹۲۰ | ۲۰۲۹۰ | ۱۵۱۳۰ | ۴۳۴۰ |
| دره درنګ | ۲۷۰۳۳۰ | ۱۵۰ | ۲۶۹۸۹۰ | ۲۹۰ | ۷۰ |
| زیروک | ۷۶۹۰ | — | ۴۷۴۰ | ۲۹۵۰ | ۷۰۰ |
| سروبي | ۲۳۸۸۰ | ۱۲۰۹۰ | ۵۰۰۰ | ۶۷۹۰ | ۲۱۱۰ |
| سرحوزه «سلطاني» | ۳۹۶۷۰ | ۱۰۲۰۰ | ۲۷۳۶۰ | ۲۱۱۰ | ۴۵۰ |
| شاوک | ۲۲۲۰ | ۹۰ | ۱۸۱۰ | ۳۲۰ | ۸۰ |
| سبري «سروتي، زمبر» | ۶۰۵۷۰ | ۱۹۴۰ | ۱۵۸۳۰ | ۴۲۸۰۰ | ۱۸۲۵۰ |
| قلندر | ۵۸۲۲۰ | ۲۷۳۰ | ۵۵۴۶۰ | ۳۰ | — |
| ګربز «ګریز» | ۱۹۷۵۰ | ۱۳۳۶۰ | ۲۳۶۰ | ۴۰۳۰ | ۱۴۴۰ |
| لاج منګل « لجه » | ۲۵۰۹۷۰ | ۱۲۷۱۰ | ۲۳۷۷۳۰ | ۵۳۰ | ۱۴۰ |
| ګیان | ۶۶۱۰ | ـ | ۲۸۷۰ | ۳۷۴۰ | ۹۹۰ |
| مټاخان «میټاخیل» | ۱۸۹۳۰ | ۱۴۲۵۰ | — | ۴۶۸۰ | ۵۰ |
| مندوزي | ۲۶۸۵۰ | ۴۸۹۰ | — | ۲۱۹۶۰ | ۶۸۴۰ |
| نادر شاه کوټ | ۱۸۰۰۰ | ۱۵۴۰ | ۱۱۸۶۰ | ۴۶۰۰ | ۱۲۶۰ |
| نکه | ۲۱۷۹۶۰ | ۱۰۶۴۰ | ۲۰۳۴۵۰ | ۸۷۰ | ۲۴۰ |
| ټولټال | ۳۳۳۸۷۴۰ | ۲۱۳۹۰۰ | ۲۶۸۶۳۰۰ | ۴۳۸۵۴۰ | ۱۴۴۷۳۰ |

په لویدیځ او سویل کې دغزني اوپه شمال کې د لوګر له ولایتونو سره او په ختیځ کې له پاکستان سره کربنه لري. پکتیا په دغو ولسوالیو ویشل سوې ده:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګومل | اورګون | سپیره | زرمت |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګردیز | ځدراڼ | سید کرم | سیکارام - ژ | ټـني |
| جاجي | موسی خیل | ځمکني | | جاني خیل |
| جاجي میدان، | خوست | | | |

او په دغو علاقه داریو ویشل سوې ده:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سروبي | | برمل | | سرحوزه | | ګیان | |
| نکه | | اورمه | | متاخان | | شاوک | Shawak |
| زیروک | Zeluk, | شمال | Shamal | نادر شاه کوټ | | حسن خیل | |
| مندوزي | | ګربز | | لاج منګل | | دره درنګ | |
| ډنډ و پټان | | سروتي | Saruti | باک | Bak | ترۍ زي | Traizai |

د پکتیا د ولایت اداري مرکز د ګردیز ښار دی. د ولسوالیو د لیست لپاره چي د کرهني او د اوبو لګولو د وزرات احصائیي ریاست چمتو کړی په تېـرو پورتنیو پانوکي جدولونه وګورئ.

* **پلـــهٔ**: پاله: [31]: ۳۶ – ۳۸، ۳۳ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کي د میران په شمال ختیځ کي د «لډور په خولـهٔ» [32] کي یو کلی دی.

**پالان**: پـلان: پلان: یا: مراد علي: [33]: دا د «دای خیتای هزاره ګانو» [34] یوه فرعي ځانګه ده.

* **پــلاو**: پالاو: پلو : [35]: -۵۷ – ۳۲، ۳۷ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کي د «یحیی خیلو» په شمال لویدیځ کي «غیب خیلو» [36] ته نـبږدې یو کلی دی.

**پسلګر**: [37]: لوړوالی: ۲۵۰۰ فیټه. دا د «ګبر» په پینځو کلیو کي تر ټولو ټیټ کلی دی. (وګورئ: ګبر) دا کلی د کونړ د سیند د ښی غاړي په اوږدو کي له سیند ځخه ۲۵۰ فیټه پورته او له هغـهٔ ټکي په لنډ واټن کي کوز واقع دی چي د کونړ له سیند سره د «دنګل» غرنی سیند یو ځای کـېـږي. دي کلي کي ۲۰ کورونه دي او د بریکوټ د کورونو په شان مربع ډوله دي. دا کورونه په ۱۸۹۱ز کال کي د نړیدلو په حالت کي ول. (رابرتسن)

**پلټ**: یا: سَرَف زي : [38]: دا په زرمت کي یو سیند دی چي د «پلتـنـي» سیمه خړوبوي. (مک لین)

نور بیا

**پــلــتــنــي**: یا پـتـَـنـي: ۲۱ – ۳۳، ۵۲ – ۶۸ «ج»: دا په زرمت کي...

**یادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک، ځلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

---

[31] -PALA
[32] -Lador Kholeh
[33] -PALAN or MURAD ALI
[34] -Daikhitai Hazaras
[35] -PALAO
[36] -Ghaibkhel
[37] -PAL ASGAR
[38] -PALT or SARAFZAI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ